# د اورلګېدنې د خطر زنګونه

**د قانون له مخې، په ویکتوریا کې د هستوګنې په ټولو ودانیو کې په هر پوړ کې د اورلګېدنې د خطر حد اقل یو زنګ باید ولګول شي.**

**FRV او CFA د لاسوهنې ضد په کوټه کې د لیتیمو له لس کلنې بېټرۍ سره د اورلګېدنې د خطر د زنګونه سپارښتنه کړې ده.**

- ستاسو په کور کې د اورلګېدنې د خطر ټول زنګونه باید سره وصل وي.
- یاد زنګونهښایې مستقل وي ( له 240 ولټه برېښنا سره وصل نه وي) یا سیمبندي شوې وي ( له 240 ولټه برېښنا سره وصل شي).







## په میاشتني ډول

- د ټیسټ ټڼۍ کېکاږئ ترڅو ډاډ شئ چې واحد کار کوي.
- ټڼۍ ته تر هغې فشار ورکړئ چې زنګ درې ځله بیپ وکړي

## په کلني ډول

- د اورلګېدنې د خطر زنګ پوښ پاک کړئ او دوړې ورڅخه په سوکه توګه لرې کړئ
- که تاسو د اورلګېدنې 9 وولټیزه زنګ لرئ، بېټرۍ په کال کې یو ځل بدله کړئ

## په هرو 10 کلونو کې یو ځل بدولو

- د اورلګېدنې ټول زنګونه (سیم بندي شوې او مستقلې) باید بدل شي

CFA

FIRE RESCUE VICTORIA


# زه څېرته باید د اورګېدنې د خطر زنګ ولګوم؟

- د اورلګېدنې د خطر زنګ باید له چت څخه لږ تر لږه 30 سانتي متره لاندې په دېواله باندې ولګول شي.
- د اورلګېدنې د خطر زنګ باید د خوب د هرې ساحې او د کور د پاتې برخې ترمنځ ولګول شي.
- د استرالیا د اطفائیې خدمات سپارښتنه کوي چې د اور لګېدنې د خطر زنګ باید په ټولو هغو سیمو کې چې ژوند کېږي، دهلېزونو او د خوب په کوټو کې، یا بل هغه اطاق کې چې څوک پکې ویده کېږي ولګول شي.
- د اور لګېدنې د خطر زنګ باید د استرالیا د معیار AS3786 اړتیاوې پوره کړي.

Certified Product™
Australian Standard

باید د خوب د سیمو او د کور د پاتې برخې ترمنځ موقعیت ولري

د لا ډېر خوندیتوب لپاره تاسو کولای شئ په نورو ځایونو کې هم د اورلګېدنې د خطر زنګ ولګوئ




د اورلګېدنې د خطر یوازې فعال زنګ کولای شي د خلکو ژوند وژغوري.
د اورلګېدنې د خطر د زنګونه په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره دغه ځای سکن کړئ.
**له اور څخه د خوندیتوب په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره frv.vic.gov.au/cfa.vic.gov.au ته مراجعه وکړئ**